UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړی**

**استازی ښاغلی نیکولاس هیسم لنډ ګزارش**

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

**نیویارک، ۲۱ جون ۲۰۱۶**

***

ښاغلي رئیس، او د امنیت شورا غړو،

زما په تېر ګزارش کې چې د مارچ په میاشتې کې دغه شورا ته وړاندی شو، ما وویل چې په ۲۰۱۶ کال کې د ملي یوالی حکومت پایښت به یوه لاسته راوړنه وي. په وینا کې ما ټېنګار وکړ چې د ملي یوالی حکومت د خپل پایښت لپاره هرومرو پېنځه ستونزی محو کړي. لازمه ده چې د ملي یوالی حکومت د سیاسي اقتصادی او امنیتي بلقوه او اصلي ننګونو سره مبارزه وکړي. د دغه کار د ترسره کولو په خاطر دوه نورو ننګونو سره به هم مخ شي، یعنې د نړیوالې ټولنې څخه د منځ مهاله مالي او نظامي مرستې ترلاسه کول او د سولې د پروسې لپاره د یو اغیزمن بنسټ ایښودل او پرمختګ کول. د دغو ځانګړو خنډونو په هر یو کې پاتې راتلل د هېواد لپاره د پام وړ ناوړه پایلې به ولري.

دا د هغو رېښتېنو لاسته راوړنو د بې ارزښته کولو او کمرنګه کولو په معنی به نوی، کوم چې دغه هېواد په تېرو لسو کلونو کې تر لاسه کړی دی، د ساري په توګه پوهنه، بشری حقونه او په ځانګړي ډول د ښځو حقونه، او یو خوځنده دیموکراتیک کلتور. دغه پرمختګونه په پراخه کچه تایید شوي دي او همدارنګه رېښتېني دي. پداسې حال کې چې دغه هدفونو وو چې باید هغو ستونزو او خنډونو ته پام واړول شي کوم چې دغه هېواد ورسره مخ دي او د دغو خنډونو او ننګونو سره د مبارزی لپاره د ټولو ښکیلو اړخونو، د نړیوالې ټولنې په ګډون، لخوا پر یو ګډ او مشترک غبرګون باندی ټینګار وشی.

ښاغلی رئیس،

زه د دې خبرې په یادولو سره خوشحاله یم چې زما د تېرې وینا وروسته چې دغه شورا ته وکړه، د دغو پينځو ننګونو لپاره د مقابلې په خاطر څو مثبت ګامونه اخیستل شوي دي. موږ د اقتصاد په ډګر کې د عوایدو د راټولو کې د نړیوال مالي صندوق معیارونو پوره کول، او په سختو شرایطو کې د اقتصادی پراختیا په موخه د منځ مهاله پلانونو جوړولو کې هم پرمختګ لیدلی دی. همدارنګه د عامه مالي چارو په مدیریت کې هم روښانه پرمختګ ترسره شوی دی. په ورته حال کې، څرنګه چې دوه کال مخکې موږ سره دا ویره وه، خو اوس مهال موږ د ملکي خدمتونو د تنخواګانو په تادیه کولو کې کومه ویره نه لرو.

موږ باید تایید کړو چې د سیمې د هېوادونو په رامنځته شوي همکاری سره ځینې مهم ګامونه اخیستل شوي دي چې ځینې یې ستر مهم پروژې جوړوي. په تېر میاشت کې د سلما د برېښنا د اوبو بند، د کاسا ۱۰۰۰ برېښنايي پروژه پرانیستل شو او همدارنګه د افغانستان، هندوستان او ایران تر منځ درې اړخیز اقتصادی تړون هم لاسلیک شو. د چاه بهار د بندر د جوړولو تړون د سېمه ییز سوداګری په ډګر کې یو نوی ستر بندر جوړولو لامل به شي.

دغه پرمختګونه د ټاپي د پروژی د پیل څخه وروسته رامنځته شوي دي او د دا ډول سترو پروژو ترسره کول به وخت و نېسي او داسې حقیقي وړتیاوې لري چې کولای شي افغانستان په یوه سېمه ییز سوداګر مرکز بدل کړی کوم چې د هغه هېله یې درلود. دا ډول همکارې وښودله چې د سېمه ییزه همکاري له لارې کوم څه ترسره او تر لاسه کیداي شي.

ښاغلی رئیس،

د امنیتي ځواکونو لخوا، په امنیتي ډګر کې، د تېر کار د خوځښتونو او تجربه شوي درسونو څخه په ګټې اخیستلو سره، عمدې غبرګون ښودل شوی دی. په زیاتو سېمه کو د جګړې میدان د بدلون په وضعیت کې قرار لرې چې تر لاسه کول او له لاسه ورکول په کې شامل وو خو هېڅ یو خوا هم ندی توانېدلې چې بشپړ سلطه ترلاسه کړي. امنیتي ځواکونه لا هم د سترو ننګونو سره مخ دې چې په هغه کې نظامي موړال، مشرتوب او د لوژسيتکي خدمتونو د کموالي پوښتنې دې چې باید هغه ته رسېدګي وشي. که څه هم اوس مهال دوی خپل تر ولکې لاندی اراضي یې ساتلې دي.

زه په خوښی سره یادونه کوم چې د ملي دفاع نوماند وزیر او د ملي امنیت نوماند رئیس یوازی پرون د ولسي جرګې لخوا تایید شول چې دا یو مثبت پرمختګ دی او تمه کېږي چې ښه عملیاتي اغیزه ولري او جګړه ییز موړال هم لوړ کړي.

افغانستان په غوره توګه د ترهګری په وړاندې مبارزه کې د سیمه ییز ستراتیژي ملاتړ کړی دی او دا یې درک کړی دی چې په افغانستان کې سوله او په سیمه کې ثبات د دې غوښتنه کوي او د سېمه ییز هڅې او هاند مستحق هم دی. زه باور لرم چې سېمه دا منطق لري او دغه مسؤلیت هم مني.

په هر حال، زه ده هغو تاوتریخوالو د لوړې کچې اغیزې په اړوند اندېښنه لرم کوم چې پر ملکي وګړو باندې اړولي دی. آند دا چې د روژې په مبارکه میاشت کې هم کمښت ندې ترسترګو شوي او په دغه موده کې د ځینو زړه بوګنونکې ځورونې راپورونه هم ترلاسه شوي دي، چې په هغه کې پر عبادت ځایونو باندې بریدونه هم شامل دي. پرون یوازی د بدخشان په ولایت کې یوه پېښه د ۱۰ تنو ملکي وګړو د وژل کیدو لامل شو چې ډېری یې پکې ماشومان وو. لا تر اوسه هم د ملکي تلفاتو کچه ډیره لوړه پاتې ده او د جګړې له امله د ملکي خلکو بېځایه کېدنه دوام لري. زه همدارنګه په قضایي سکتور کې پر ملکي کارکوونکو او خبریالانو باندی د هدفي وژنو لړی په اړوند هم اندېښنه لرم.

زما په آند داسې یو ګواښ شتون لري چې ممکنه ده شخړه داسې یو پړاو ته داخل شي چې په هغه کې د غچ اخیستونکې عملونو لړۍ او زیات تاوتریخوالي تدریجي تحول به ووینو. زه د شخړې ټولو خواو ته د دوي مکلفیتونو یادونه کوم چې په بدیو او شخړو کې د ملکي وګړو ساتنې ته ځانګړې پام و ساتي. دا جوته ده چې د بشري قانون څخه د تېریکوونکې او مرتکبین سره به احتساب وشي، دا څکه چې دواړه د قربانیانو لپاره عدالت ډاډمن شي او همدارنګه د ساتنې او مخنیوي په موخه اغیزمن کمول تظمین شي. یوناما په ځانګړې ډول په نږدې تېر وخت کې لامل شوي چې د شخړو پر مهال د ښونځیو او طبي کلینیکونو د نه تېری عنصر په ډول، ټولو خواو ته ور په یاد کړي.

ښاغلی رئیس،

په پورته کي ياد شوي برخو کي – پرمختګ، اقتصاد او امنيت – اړتيا ده چي افغان ولس پر خپل حکومت باندي باور ولري، په ځانګړي ډول په اوسني وخت کي ځکه چي دوي غواړي په بروکسل او وارسا کي د نړيوالي ټولني څخه يو پياوړي ملاتړ ترلاسه کړي، په بل عبارت دريم خند.

د حکومت لخوا د ډونرانو سره جدی تعامل او ښکيلتيا تر ځو هغو مسلو ته رسيدګي وشی چي کولای شي په دا ډول ناستو کي د بريا لامل شي، تاييد شوی دی. موږ د افغان وګړو د غوښتني څخه به په کلک ډول سره ملاتړ وکړ چي انکشافی مرستي به هغه مهال ډير ښه اغيزمن ثابت شي چي په کوربه هيوادونو کي د مهاجرو د ادغام پخاطر د لګښتونو د لګولو پر ځای د مهاجرت پر لاملونو باندي ولګول شي. که څه هم د افغانستان څخه دا تمه نکيږی چي د افغانستان د هيواد د پام وړ اړتياوي ثابت کړي، بلکي د ظرفيت څرګندول دي تر څو سرچيني په اغيزمن ډول سره وکارول شي، تر څو دغه مرسته خپل واقعي اثر او اغيزه ښکاره کړي.

د ډونر هيوادونو د تمو سره سم، ريښتني هڅي شوي دي، لکه څنګه چي د متقابل حساب ورکوني شاخصونو د نوی کولو په پراختيا او افغانستان د انکشافي کاری چوکاټ د چمتو کولو لاري، موږ د پرمختګ شاهدان وو. د اداری فساد سره مبارزه د نيت او بيانونو او اعلاميو څخه پرته روان دی. د ولسمشر غنی لخوا د حکومتوالي، عدالت او د اداری فساد سره د مبارزی عالي شورا رامنځته کول، په دغه ډګر کي لومړی ګام دی، او د اداری فساد په وړاندی د مبارزی عدلي مرکز رامنځته کيدل هم يوه بېلګه ده. د لوی څارنوال ټاکل هم يو بل مثبت پرمختګ دی، راتلونکي ننګوني به يوازی د پايلو ښودل وي، هغه هم نه يوازي د کاغذ پرمخ بلکي د حکومت په دستګاه کي او د افغان وګړو په ورځني چاروکي هم راڅرګند شي.

پداسي حال کي چي موږ هيله لرو چي د وارسا ناسته به بريالی شي، د بروکسل د ناستي لپاره چمتوالي مخ په وړاندي روان دي. اړتيا ده چي افغانستان په پراخه توګه د ډونرانو د غوښتنو څخه راضی وي ځکه چي زيات شمېر نور هيوادونه د قانع کوونکو غوښتنو سره د ډونرانو د مرستو پر سره سيالی کوي. پر خپل ځای، د ډونرانو ټولنه هم اړتيا لري چي تشخيص کړي چي د دوي د تمي اصلاحات او سمونونه، کله چي د افغان حکومت ننګوني د ټولو مرستو د سنجولو په مقابل کي اندازه کيږی، واقعی وي.

ښاغلی رئیس،

د يوې دوامداری سولي د پروسي په اړوند، د دې په پام کي نيولو سره چي تر دې دمه د څلور اړخيزې همغږي ډلې په مرسته د نابرياليي هڅو سره او په تېر نږدې وخت کي د طالبانو د مشر اختر محمد منصور د مرګ په پام کي نيولو سره، دا ډول يوه پروسه په لنډ مهاله موده کي ناشوني ښکاری. که څه هم موږ په دې باور يو چي د طالبانو په تحريک کي داسي کړی شته کوم چي پوښتي آيا موږ کولای شو په نظامي ډګر کي وګټو، لږ تر لږه په لنډ مهاله موده کي، او يا پدې آند دې چي آيا يوازی نظامي لاره، د خوښي وړ او مطلوب لاره ده.

زما د کار په موده کي يوناما په ټول ځواک سره د سولي د پروسي لپاره تعامل کړی دی چي پکي دواړه د نورو ملاتړ کوونکو نوښتونو او همدرانګه زموږ خپله وړانديز شوي لاره پکي شامل وو. موږ په نږدې تېرو وختونو کي د اسلامي همکاری سازمان سره ناسته ترسره کړی دی تر څو په ګډه طالبانو ته اصرار وکړو چي د يوې دوامداري سولي پروسي لپاره اړتيا شته او دا چي دغه اوږد مهاله ترخه جګړه دويمه لاره نلري او دغه لاره غوره پايله لري او د دغه غوښتني پرله پسي ردول يوازی دوی ته طرد شوي موقف ور په برخه کوي.

موږ دا نظر لرو چي د سولي پروسه په ټوله معنی يو آسايش ندی، بلکي يوه اړتيا ده، چي د هغه پرته افغانستان، تره هغه ځايه چي موږ پوهيږو، به دوام ونکړي. افغانان په تدريجی ډول سره بلاخره پرهغه ترتيب او تنظيم باندې به هوکړه وکړي په کوم کي چي دوي کولاي شي په ګډه په سوله او همغاړيتوب کي ژوند وکړي. زه له دې امله مايوس يم چي تر دې دمه د سولي د هڅو لپاره کوم کشش شتون نلري، خو په ورته حال کي خوشبين يم چي دا ډول يوه پروسه په پای کي رامنځته شي.

ښاغلی رئیس،

په پای کې، د سیاسي چارو په ډګر کې د ټاکنو د سمونو لپاره خوځښت ورو دی او د ټولټاکنو لپاره د نېټې معین کول یو له هغو شاخصونو څخه دی چې پراخ سیاسي پیوستون ته اړتیا لري، د اړتیا هغه غوښتنه کوم چې ماتیدونکي سیاسی ځانګه د خپل ګډ سیاسي راتلونکي په خاطر طرحه کړی دی. د جون د میاشتې په ۱۳ نېټه ولسي جرګه د تشکیلاتو د قانون مسودې ته منفی رایه ورکړه چې لا زیات بحث او بیاکتنې اړتیا یې لازمی کړی دی. د جون د میاشتې ۱۷ نېټه، د اساسي قانون د احکامو پر بنسټ هغه نهایې نېټه ده چې باید پکې د ټولټاکنو نېټه اعلان شي، چې د وعدو پر اساس د اکتوبر د میاشتې ۱۵ نېټه ټاکل شوي وو، شاه او مخته کیږي او داسي ښکاری چې لا هم د مخ په وړاندې لارې باندې کومه هوکړه ندی شوې.

د ټولټاکنو د نېټې په اړه ناڅرګندتیا د دې لامل به شي چې د دواړه، ملي یوالي حکومت او پارلمان د مشروعیت ننګونو سره مرسته وکړي چې په دفتر کې د دوی د اوسیدو دوره لا د وخته تېر شوی دی. یو ستر اپوزیسیون چې د ناوړه اقتصادی او امنیتي وضعیت له امله ناراضه دی، خو پرته له دې په خپل هېلو کې ورک دی، داسې ښکاری چې د خپل عمومي غوښتنې لپاره، چې د یو نوی حکومت ترتیبات دې، سره یو ځای کیږي.

اوسمهال افغانستان سیاسي سیالی ته اړتیا لري چې دا وروستي تګلاره ده او د خپلو هڅو سره کولای شي پر ننګونو باندې بریا ترلاسه کړي په خاص ډول سره د بروکسل د کنفرانس وروسته پړاو کې ځکه د حکومت اغیزمنتوب هرومرو به د پام په محراق کې وي. ما په ګډه د خپلو نړیوالو همکارانو سره، د افغانستان د سیاسي مشران څخه وغوښتل چې د نفاق پر ځای د یو ځای کیدو او لا زیات همکاری لاره غوره کړي. دا همکاری به د مقننه او اجرایوي ځواکونو ترمنځ، د ملي یوالي حکومت په دننه نهادونو کې او همدارنګه د سیاسي اپوزیسیون سره پلې شی.

ښاغلی رئیس،

په تېرو څلورو کلونو کې کومه تجربه چې ما ترلاسه کړي زه یې خوشبین کړی یم چې افغان ولس کولای شي خپل پر ننګونو باندې بریا ترلاسه کړي. دغه خوشبینې پر دوو مسلو باندې ولاړ دی. لومړی هغه د افغان ولس انعطاف دی چې دوي د سختو ننګونو په مقابل کې له ځانه ښکاره کوي. دویم په افغان ولس کې د ریښتینې وطنپالې د حس شتون دی چې د تنظیمي وفاداری په مقابل کې پیاوړی او ژوندی پاتې کیږي. دا هغه ځانګړنې دې چې په نورو جګړه ځپلو هېوادونو کې د ترلاسه شوي تجربو څخه کم ارزښته نده. ممکنه د ده دغه دوه ځانګړتیاو له امله افغانستان نه یوازی په ۲۰۱۶ کال کې ژوندي پاتې شي بلکې په پای کې پیاوړی به هم شي.

څرنګه چې دغه ګزارش په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړي استازی په صفت دغه شورا ته زما ورستي ګزارش وي، غواړم چې د خپلو همکارانو څخه، د ملګرو ملتونو د کار او ارزښتونو لپاره د دوي د ژمنتیا له امله مننه وکړم. یو ماموریت یوازی د خپلو کارکوونکو د دلیوالتیا، مسلکېتوب او ژمنتیا په مټ کار کوي. او په یوناما کې زما ښه خاطر داری وشو.

ستاسو څخه مننه.

***

**UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN (UNAMA), KABUL, AFGHANISTAN**

FOR MORE INFORMATION, PLEASE CONTACT: SPOKESPERSON-UNAMA@UN.ORG

UNAMA ONLINE: HTTP://UNAMA.UNMISSIONS.ORG • FACEBOOK • TWITTER • FLICKR • YOUTUBE